Afghan Peace Watch
افغان سوله څار - دیده بان صلح افغان

info@afghanpeacewatch.org
afghanpeacewatch.org

افغان سوله څار (APW)
بریښنالیک:

info@afghanpeacewatch.org

د خپرولو نېټه:

د اپریل 21، 2022

## له سقوط وروسته، په افغانستان کې ښځې او خبریالان د طالبانو د بریدونو موخه ګرځیدلي

طالبان د کابل له سقوط څخه وروسته د ملکیانو پر وړاندې له پنځوس سلنې زیات د تاوتریخوالي د پیښو عاملین دي. په دې اړه افغان سوله څار(APW) او د وسلوالو نښتو د ځای او پېښو اړوند ډاټا پروژې (ACLED) د ګډو مالوماتو پر مټ څېړنیز راپور برابر شوی چې د روان کال په اپریل میاشت کې خپور شو.

افغان سوله څار د اکلیډ د سیمییز همکار په توګه د تیر کال له ډیسمبر څخه راپدیخوا له ۸۰۰ زیاتې پیښې په ځانګړې توګه راپور کړې دي. د تیرکال د اګست د میاشتې په پنځلسمه، د افغانستان له سقوط وروسته افغان سوله څار په هیواد کې د امنیتي لاملونو له کبله خپلې چارې د څو میاشتو لپاره په ټپه ودرولې خو نوموړې ادارې له څو میاشتو ځنډ وروسته بیرته په ډیسمبر کې خپل فعالیت پیل کړ. په دې څېړنیز راپور کې  د افغانستان په اړه د اکلیډ په مالوماتي ټولګه کې د ملکیانو پر وړاندې د تاوتریخوالي شل سلنه پیښې یوازې د افغان سوله څار لخوا راټولې شوې دي.

د افغان سوله څار مشر او د دې څېړنیز راپور یو لیکوال حبیب خان وايي، "طالبانو په افغانستان کې د رسنیو په ازادۍ سخت بندیزونه لګولي چې له امله یې په هیواد کې خبریالي له ډیرو ستونزو سره مخ شوې ده خو افغان سوله څار په ننګونکي چاپیریال کې د بېساري میتودالوژۍ او د خپلو خبریالانو د شبکې په مټ په دې توانیدلی چې د پیښو په اړه کره مالومات تر لاسه او د افغانستان ریښتینی انځور وړاندې کړي."

د افغان سوله څار له مالوماتو پرته به د ۲۰۲۲ کال په جنوري کې د اکلیډ د مالوماتو په ټولګه کې د عامو وګړو پر وړاندې د ټولو لوریو د تاوتریخوالي کچه کمه ښودل شوې وای. خو د افغان سوله څار د مالوماتو په ورزیاتېدو سره د دغو پېښو شمېر د ۲۰۲۲ کال په جنوري کې زیات شوی دی.

د راټولو شویو مالوماتو پر بنسټ د ګډ راپور موندنې هغه ننګونې خلاصه کوي چې د کابل له سقوط وروسته د اوو میاشتو په موده (د اګست له ۱۵ څخه د مارچ تر ۱۵ پورې) کې  په افغانستان کې د مالوماتو د ترلاسه کولو او مالوماتي سرچینو پیدا کولو پر وړاندې پرتې دي. دا راپور د اکلیډ د مالوماتو په ټولګه کې د افغان سوله څار د مالوماتو ونډه په ډاګه کوي، همدارنګه دا ارزونه کوي چې څرنګه د عامو وګړو او ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوند کلیدي ټرینډونه په غوره توګه رابرسېره شي.

دا راپور د خبریالانو پروړاندې تاوتریخوالی رابرسېره کوي چې د طالبانو تر حاکمیت راوروسته د تېر کال په سمپتمبر کې زیات شوی دی، همدارنګه د ښځو پر وړاندې سیاسي تاوتریخوالی را په ډاګه کوي، چې په جنوري او فبروري میاشتو کې پکې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

راپور لیکي، "د کابل له سقوط وروسته عام وګړي د طالبانو، داعش او ناپېژاندو وسلوالو ډلو له خوا په نښه کېږي. د عامو وګړو پر وړاندې د تاوتریخوالي اصلي عاملین طالبان دي، چې د ۲۰۲۱ اګست له ۱۵مې راهیسې د عامو وګړو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو له نیمایي زیات یې طالبانو تر سره کړي."

یو له مهمه ټرېنډونو څخه چې دا راپور یې راسپړي د تېر دولت د کارکوونکو او امنیتي ځواکونه په سیستماتیک ډول په نښه کیدل دي چې د اګست له ۱۵ مې نېټې د طالبانو له خوا د عامو وګړو پر وړاندې د ترسره شوي تاوتریخوالي ٪۳۰ یې په دا وړ خلکو پورې اړه لري.

په دې راپور کې د طالبانو، د طالبانو د ضد ځواکونو، او طالبانو او داعش ترمنځ نښتو ته هم کتنه شوې ده. همدارنګه د طالبانو د داخلي اختلافاتو او نښتو اړوند مالومات هم ورکړل شوي دي، تر څو په دې ډله کې د یووالي کچه معلومه شي، څکه اوس دوی له بوې یاغي ډلې په اصطلاح دولتي جوړښت بدل شوي دي.

د افغانستان په دې نوي رسنیز چاپېریال کې کره راپور ورکول تر پخوا زیات ارزښت لري. د افغان سوله څار او ورته نورو ادارو مخکښه رول د اوسني ځپونکي رژیم د واک پرمهال له هیواده د ریښتیني مالوماتو د راټولولو اړوند لا زیات اړین شمیرل کیږي.

سید نیام عالمي، د افغان سوله څار د اړیکو مسؤل او د دې راپور یو لیکوال وایي، "د لومړنیو او باوري مالوماتو د راټولولو په پار، زموږ د افغان سوله څار اداره دې ته ژمنه ده چې د ننګونو سره، سره خپل کار ته دوام ورکړي او د پیښو په اړه کره مالومات تر لاسه او وړاندې کړي."

افغان سوله څار د خپلو خبریالانو برسېره د هیواد په ټولو ولایتونو کې ۲۳۸ سرچېنې لري چې هره ورځ ترې د روانو چارو په اړه مالومات راټولوي. د افغان سوله څار اداره د ټولنیزو رسنیو نږدې ۱۲۰ اکونټونه او تر څنګ یې په پښتو، دري،عربي، ازبکي، اردو او نورو سیمه ییزو ژبو کې ورته رسنۍ څاري چې ترې راټول شوي مالومات بیا له خپلو سرچینو سره د تایید یا رد په پار شریکوي. نو په دې بنسټ، افغان سوله څار د مالوماتو د راپورولو او تاییدولو تر ټولو لوړ معیار ته ژمن دی، تر څو د مسؤلیت له ترسره کېدا ډاډ ترلاسه او په افغانستان کې د سولې او بشري مرستو د اقداماتو اړوند هڅو لپاره غوره مالومات چمتو کړای شي.

د افغان سوله څار پر وېبپاڼه په انګلیسي، پښتو او دري ژبو کې د پوره راپور د لوستلو لپاره د دلته کلیک کړئ!